**زرغونه عطا**

## د سپتمبر وویشتم یا دداکتر نجیب د مرګ د تلین نولسم تلین



ای د آسیا په زړه کی د افسانو د ښار د پت او عزت خاونده

ای د برم او افسانو د ویاړونو په زړه کی تل پاتی اتل نجیبه

ای د خواریکښ او رنځیدلو بچو ددرد او زغم ګران ویاړلی ملګریه

ای چی  د ننګ او غیرت ناری دی د کابل د لوړو غرو آزانګی وی

ای چی د ګل بڼ د باغ مالیار وی او د شجاعت او میړانی ځلیدونکی ستوری

ای چی د جګو جګودرو پر سر دی خپاره وه وزرونه

او ای د افغان او افغانستان د لوړو لوړو غرو پر سر بی باکه شاهینه

ای د بابا او هندوکش د غروپه منځ کی د میړانی او غیرت نه ډک زمریه

ستا د میړانی او برم افسانی لا ندی هیری•••

**هو ته لا تر اوسه هم د زړونو باچا او د خوارو ملګری یي**

**ستا د میرانی او عزت کیسی لا دهر کوراو کهول تل پاته افسانی دی**

**ته ژوندی یي او د زړونو واکدار**

**بلی ! ته تل پاتی د تاریخ یاد او ویاړ یي**

**نو ځکه ستا د شهادت یاد د هوډ او پیمان ورځ ده**

**هو ! ته او ستا لار به د تیارو نه د رڼا د خلاصون ورځ وی**

**یاد دی تل پاته او همیشنی اوسه**

**د زړونو او هوډونو اتل بچیه ډاکتر نجیبه**

**16-9-2012**